FMIC
د فرانسې طبي انستیتوت
د میندو او ماشومانو لپاره




# گزارش سالانه ۲۰۲۲

# لړلیک

۰۲
۲۰۲۲ ته یوه کتنه

۰۴
مهم ټکي

۰۶
د مدیره هیت
د مشر پیغام

۰۷
اجرائیوي ریس پیغام

۰۸
لاسته راوړني

۱۰
زموږ ناروغان

۱۲
د بیوزلو چوپړتیا

۱۵
غیرې حضوري طبابت

۱۶
وړتیا جوړونه

۱۸
په افغانستان کې د
باکیفیته روغتیایي
پاملرنې په لور

۲۱
زموږ شریکباني

۲۲
راتلونکي ته زموږ لید

۲۴
شمېرې

د انځور اخستنې امتیازونه:
محب‌الله رحیمی،
دیوید فاکس، ژان فرانسوا موسو،
عمر خان و اورین زرا



# ۲۰۲۲ ته یوه کتنه

**۱۲،۷۳۵**
بستر شوي ناروغان

**۱۷۶،۱۰۶**
کلینکي ویزیتونه

**۵۲۸،۲۸۰**
لابراتواري معاینات

**۹۰،۱۰۲**
رادیولوژیکي پروسیجرونه

**۵،۴۲۶**
جراحي




**۸۰۱**
د کوچنیانو زېږېدنې


**۲،۸۰۷**
غیرې حضوري سلامشورې

**۵۵،۵۱۴**
له خیریه څانګې ګټه اخستوونکي ناروغان (د ۸،۹۶۴ داخل بستر ناروغانو په ګډون)

**۴.۳** میلونه ډالره
یې د ناروغانو خیریه څانګې ته ورکړې دي

# مهم ټکي

د افغانستان په روغتیایي سکتور کې مخکښ بدلون



لومړی روغتون دی چې د
زړه پرانستي جراحي یې
ترسره کړه (۲۰۰۶)

لومړني افغان د زړه جراحان دي
چې د زړه تړلې جراحي ترسره
کوي (۲۰۰۸)

لومړني افغان د زړه جراحان
دي چې د زړه پرانستي جراحي
ترسره کوي (۲۰۱۰)

لومړنی روغتون دی چې د انستزیولوژۍ،
کاردیولوژۍ، پتالوژۍ او راډیولوژۍ په برخه کې
یې د اکمال تخصص روزنه وراندې کړې ده (۲۰۲۳)

لومړی روغتون دی چې په
بریالۍ توګه یې ایزوفګیال
ارتزیا ترسره کړه (۲۰۰۶)

لومړی روغتون دی چې
ISO 9001:2008 تصدیق یې
ترلاسه کړ (۲۰۰۹)

لومړنۍ کلنۍ نړیواله غونډه او د
کیفیت کنوانسیون په FMIC کې جوړ
شوی دی (۲۰۱۱)

په لومړي ځل یې د کنجنتل
ډیافراګماټیک هرنیا غیري تهاجمي
ترمیم ترسره کړ (۲۰۱۸)

د نوزېږو کوچنیانو د جدي
پاملرنو لومړنۍ ځانګړې مدرنه
ځانګه لري (۲۰۱۶)

لومړنی ۱۲۸ – سلایس
سی تی سکنر (۲۰۱۳)

لومړی روغتون دی چې د زړه او
رګونو په برخه کې د اکمال تخصص
روزنه وړاندې کوي (۲۰۲۰)

تر ۱ کیلو کم وزنه کوچنی چې ډکتوس آرتریوزیس یې
درلوده چې د زړه یوه ډول ناروغي ده، په لومړي ځل په
بریالۍ توګه د جراحۍ له لارې وترل شو (۲۰۱۷)

لومړنی روغتون دی چې په بریالۍ
توګه یې یو له بل سره نښتي
غبرګوونکي کوچنیان جلا کړل (۲۰۱۵)

لومړی روغتون دی چې د
ورون د مفصل د پوره بدلولو
جراحي یې ترسره کړه (۲۰۱۹)

لومړی روغتون دی چې د
زنګون د مفصل د پوره بدلولو
جراحي یې ترسره کړه (۲۰۲۰)

لومړی روغتون دی چې په کرکیچن
حالت کې د روغتون د نړیوال فیدریشن
پرېمینه جایزه ترلاسه کوي (۲۰۲۱)

لومړی روغتون چې د خوندي
پاملرنې (Safe care) د ۵ کچې
تصدیق یې ترلاسه کړ (۲۰۲۲)

لومړی روغتون دی چې په پوړتني
اندامونو کې د عصب ترانسفر
جراحي ترسره کړه (۲۰۲۰)

لومړی روغتون دی چې د
بالون ارټریل سپټسومي یې
ترسره کړه (۲۰۲۱)

لومړی روغتون چې د
الکتروفیزیالوژۍ پراسیجر
پیلوي (۲۰۲۲)




# د مدیره هیئت د مشر پیغام

د ۲۰۲۲ ام کال په پای کې زه د FMIC د مدیره هیت د مشرۍ له دندې ګوښه شوم، دا هغه مقام وه چې په ۲۰۰۶ کې ددې نهاد له رامنځته کېدو څخه راپدېخوا ما یې د مشرۍ درلودو ویاړ درلوده. د دندې له دې اوږدې مودې څخه خورا خوښ یم. سره له دې چې د نړۍ تر ټولو په ننګوونکي چاپېریالونو کې فعالیت کوي، خو د FMIC لاس ته راوړنې بیا هم د پاموړ دي. سره له دې چې خلکو د پیسو ورکولو توان درلوده، خو FMIC بیا هم داسې یو خیریه نهاد وه چې له هر ولایت څخه د راتلونکیو افغانانو چوپړتیا یې کړې ده. په ډېرو سختو شرایطو کې خورا پیچلې پاملرنه ترسره کړې ده. په حیاتي مهارتونو کې افغان نارینه او ښځینه روزلي دي. دا نهاد او کارمندان یې د معتبرو نړیوالو سازمانونو لخوا په رسمیت پېژندل شوی او نړیوال اعتبار یې هم ترلاسه کړی دی او دا په افغانستان کې یوازینی روغتون چې دا کار یې ترسره کړی دی.

د FMIC لاس ته راوړنې په اسانۍ لاس ته نه دي راغلي. بنسټ ایښودونکي شریکبانې یې پخپله دې ژمنه کې ثابت قدمه پاتې شوي چې داسې یو نهاد رامنځته کړي چې په نړیوالو معیارونو د افغانانو چوپړتیا وکړي. د FMIC منجمنټ – افغانان او بهرنیان – له سخت اقتصادي حالت او سیاسي او پوځي ناامنۍ سره د مخامخېدو په صورت کې بیا هم په پرله پسې توګه نوښتګر او زړور پاتې شوي دي.

پداسی کی دا، کومې ننګوونې چې FMIC ورسره په تېر وخت کې مخامخ وه، ویرونکې وو، خو کومې ننګونې چې په راتلونکې کې باید ورباندې لاسبرې وومې، تر دې خورا ویرونکی دي. که څه هم د اقتصادي ستونزو او ناامنیو له امله یې منابع په شدت سره له منځه تللي، خو د دې غیر معمولي خدماتو اړتیا او تقاضا مخ په ډېریدو ده.. زه ډاډه یم چې ستاسو رهبري به د پخوا په څیر بریالۍ وي، خو د هغو شریکانو او بسپنه ورکوونکو اړتیا چې افغانانو ته د خدمتونو د وړاندې کولو په برخه کې ګډ تعهد لري، تر بل هر وخت زیاته ده.

د راتلونکیو ډېرو کلونو لپاره زه د FMIC دوامداره بریاوو ته سترګې په لاره یم.



**لی هیلینګ**

د FMIC د مدیره هیت مشر





# د اجرائیوي ریس پیغام

FMIC پخپل تاریخ کې پر ګڼو ننګونو لاسبری شوی او پیاوړی ترې راوتلی دی. د FMIC سرښندویه رهبرۍ ددې انستیتوت په وده، بریا او نرمښت کې عمده رول لوبولی دی. په ۲۰۲۲ ام کال کې موږ د FMIC له بنسټګر مشر ښاغلي لي هیلنګ سره خدای په اماني وکړه چې د ۱۷ کلونو لپاره یې ددې انستیتوت مشري وکړه. په FMIC کې دهغه شتون موږ ته فوق العاده ځواک را په برخه کړی وه او په راتلونکي کې به مو ډېر یادېږي. خو بیا هم ، موږ خپله ژمنه بیا تکراروو چې د ده میراث به ژوندی ساتو او د واکمنې ادارې، منجمنټ او نورو همکارانو په ملاتړ به د FMIC بریا ډاډمنو.

د ۲۰۲۲ ام کال لاس ته راوړنو په کتنې سره، دا د پاموړ دي چې له ستونزو سره د مخامخېدو باوجود، FMIC بیا هم بریالۍ وه. په هغه کال کې ، FMIC ډېرې لاس ته راوړنې درلودې، چې تر ټولو غوره یې دا وه چې دا په افغانستان کې لومړی روغتون شو چې د خوندي پاملرنې تصدیق ترلاسه کوي. دا تصدیق دا تاییدوي چې دې انستیتوت د ناروغ په پاملرنه کې د کیفیت او خوندیتوب لپاره نړیوال معیارونه پوره کړي دي. پردې سربېره، FMIC یوځل بیا د ISO تصدیق ترلاسه کړ، چې دا معیار یې په لومړي ځل په ۲۰۰۹ ام کال کې ترلاسه کړی وه. دا ټولې بریاوې د FMIC د ټیم د سخت کار او ژمنې پایله ده، موږ یې هاندوهڅو قدردانی کوو.

د اقتصادي حالت په خرابېدو سره، روغتیایي پاملرنې ته لاسرسی خورا ستونزمن شوی دی. دا چې په غوره توګه د افغانستان د خلکو چوپړتیا وشي، نو FMIC د ناروغانو خیریه ځانګه لري چې بیوزله ناروغانو ته د پاملرنې ترلاسه کول شونی کوي. په ۲۰۲۲ کې دې پروګرام د ۵۵،۵۱۴ ناروغانو لاسنیوی کړی او په دې برخه کې یې ۴.۳ میلیونه ډالر چمتو کړي دي. دواړه شمېرې یو تاریخي ریکارډ ښیي. پردې سربېره، دې روغتون په دې وروستیو کې تر ۵۰٪ پورې د خپلو چوپړتیاوو لګښت راکم کړی دی.

همدارنګه، په ۲۰۲۲ کې د اکمال تخصص په روزنیز پروګرام کې ۲۸ نوي ډاکتران ومنل چې په دې کې ۱۰ مېرمنې هم شاملې دي. په ۲۰۱۲ کې د یاد پروګرام تر پیل راهیسې دا تر ټولو شمېره ده او دا د FMIC د بشري قواوو د روزنې د پروګرام یوه اړینه برخه ده.

موږ روښانه راتلونکي ته سترګې په لاره یو، موخه مو دا ده چې د ۲۰۲۲ ام کال له تجربو او درسونو ګټنه وکړو.



**عزیز احمد جان**

د FMIC اجراییوي مشر

# لاسته راوړنې

## د غوره والي ښودنه

FMIC په افغانستان کې د روغتيايي پاملرنې لومړنی مرکز دی چې د خوندي پاملرنې د ۵ کچې تصديق ورکول کېږي. خوندي پاملرنه د فارم اکسس او د ګډ نړيوال کميسون او روغتيايي چوپړتياوو ته د اعتبار ورکولو لپاره د سويلي افريقا د شورى ګډ نوښت دی. ددې موخه په ټيټ او منځني درامد درلودونکيو هېوادونو کې د روغتيايي پاملرنې د کيفيت لوړوالی دی چېرته چې مليونونه خلک د نړيوال کيفيت د روغتيايي پاملرنې له نشتوالي کړېږي. د ۵ کچې تصديق چې د خوندي پاملرنې د تصديق تر ټولو لوړه کچه ده او هغو انستيتوتونو ته ورکول کېږي چې د خوندي پاملرنې د چوپړ په ټولو عناصرو کې د کيفيت لوړ مثالي معيارونه وړاندې کړي. د ګڼو ننګونو او ستونزو باوجود او د سخت انلاين او په ساحه کې ميشت ارزونو وروسته، د FMIC رهبري او منجمنټ خوښ دي چې دا پېژندنه يې ترلاسه کړه.

## د لاسرسۍ د زياتوالي په موخه د فيس کموالی

ننګووکي اقتصادي حالت ته په ځواب کې، چې د اکثرو خلکو لپاره يې د روغتيايي پاملرنې د لګښتونو ورکول ستونزمن کړي وه، نو FMIC د ګڼو چوپړتياوو لپاره د ناروغانو فيسونه ۵۰٪ راکم کړل. په سپتمبر ۲۰۲۲ کې يو غونډه وشوه چې د عامې روغتيا وزير په شتون کې يې رسماً دا کموالی اعلان کړ. ددې فيس کموالي د لوړ کيفيت درلودونکي چوپړتياوو په چمتو کولو کې د FMIC په ژمنه کې بدلون رانه وړه، لکه څرنګه چې د خوندي پاملرنې د ۵ کچې د تصديق لاس ته راوړنه يې ښودنه کوي. د مشورې ورکولو، آی سی يو، اين ای سی يو او زيږونونو په فيسونو کې تر ۵۰٪ پورې کموالی راغی، حال دا چې د جراحۍ په فيسونو کې تر ۲۵٪ پورې کموالی راغی. د راديولوژۍ په پروسيجرونو او لابراتواري معايناتو کې تر ۳۰٪ کموالی راغی. په ورته وخت کې د FMIC د ناروغانو خيريه ځانګې د کم درامده ناروغانو لپاره وړيا يا سبسايډي پاملرنې چمتو کولو ته دوام ورکړ.

## نوې چوپړتياوې

FMIC ژمن دی چې د منظمو نويو چوپړتياوو په معرفي کولو سره د افغانستان د خلکو د پرمختلونکيو روغتيايي پاملرنې اړتياوو ته رسيدګي وکړي. په ۲۰۲۲ کې يې په سږو پورې اړوند يو شمېر چوپړتياوې اضافه کړې، چې په دې کې سپارومټري (د ريوي دندې معاينه ده)، پلورل بايپوسي ( د سږو په شاوخوا کې د غشا د ستونزو لپاره معاينه ده)، د چسټ ټيوب پلي کول ( د سږو له شاوخوا څخه د هوا يا مايع تخليه کول) او همداراز C-PAP او Bi-PAP کارول شامل دي ( له هغو خلکو سره مرسته ده چې په تنفس کې ستونزه لري). پردې سربېره، FMIC د الکتروفيزيالوژۍ پروسيجرونه هم وړاندې کړل (چې د زړه د بېلابېلو ستونزو په تشخيص کې کارول کېږي) چې په افغانستان کې د خپل ډول دا لومړنی چوپړ دی.

## د خلکو د پرمختګ لپاره زمينه برابرول

له کاناډا څخه د خپلخوښو يا رضاکارانو په همکارۍ، FMIC د انګليسي ژبې دوديز کورس پيل کړ چې ۴۹ زده کوونکيو بشپړ کړ. په دې کې ۲۷ کسانو مخکې کچې ته پرمختګ وکړ. نورو ۵۰ زده کوونکيو د ۲۰۲۲ کال په وروستيو کې په دې پروګرام کې نوم ليکنه وکړه. FMIC د صباني پروګرام لپاره د روغتيايي مشرانو رامنځته کېدنې ته دوام ورکړ، چې دا يو ډېر نچوړيز او اړونده کورس دی. د کال په ترڅ کې د FMIC د ټيم ۱۴ غړي له دې پروګرام څخه فارغ شول.

## د پوهې لوړوالی


په ۲۰۲۲ کې د FMIC د پتالوژۍ او کلينکي لابراتوار څانګو په BMC سرطان، BMC کلينکي او تجربوي طبابت، BMC د کيس د راپور ورکولو، د سرطان د سنبالنې او څېړنې او BSH eJHaem په څېر په علمي مجلو کې نهه علمي مقالې خپرې کړې دي. پردې سربېره د FMIC د راديولوژۍ ټيم په نړيوالو علمي مجلو کې درې څېړنيزې مقالې هم خپرې کړې دي. دا خپرېدنې له پوهې سره د FMIC د فاکولتې او دهغې د کارمندانو ونډه راښيي.

## د واکسينو برنامه

FMIC د عامې روغتيا وزارت لخوا د کويد – ۱۹ د واکسينو د مرکز په توګه وټاکل شو. ياد وزارت، FMIC ته واکسين ورکړل چې عامو خلکو او خپلو کارمندانو ته يې وکړي. FMIC له جانسن او سينو فارما څخه د کويد – ۱۹ دوه ډوله واکسين وړاندې کړل چې د کال په اوږدو کې يې ټول ټال ۱۲،۳۰۷ ډوزه تطبيق کړي دي. د FMIC ټول کارمندان له پخوا څخه واکسين شوي وه.

## له خوارځواکۍ سره مبارزه

د ۲۰۲۲ ام کال د مارچ په مياشت کې، FMIC د عامې روغتيا وزارت او د روغتيا د نړيوال سازمان د چارواکيو په شتون کې د خوارځواکه کوچنيانو د درملنې لپاره يوه نوې څانګه پرانيسته. دا نوښت ځکه ترسره شو چې په افغانستان کې د کوچنيانو او نوزېږو سخت روغتيايي حالت ته رسيدګي وشي. په دې څانګه کې ۱۸ بسترونه دي چې دوه پکې د ځانګړې پاملرنې بسترونه او دوه د آی سی يو بسترونه دي. دا نوې څانګه له ۱ څخه تر ۵۹ مياشتې عمر درلودونکيو کوچنيانو خوارځواکۍ ته رسيدګي کوي چې دوی ته د لوړ کيفيت پاملرنه چمتو کېږي. د La Chaîne de l'Espoir پيسې د ناروغانو لپاره په لاسرسي کې مرسته کوي



# زموږ ناروغان

د افغانستان له ټولو ولایتونو څخه ناروغان د درملنې په موخه FMIC ته راځي چې زیاتره یې پیچلي طبي ناروغۍ لري او خورا بېوزلي او د بد اقتصادي حالت درلودونکي وي. په دوی کې د زیاترو لپاره، FMIC د باکیفیته روغتیایي پاملرنې د ترلاسه کولو لپاره یوازینۍ هیله وي. په ۲۰۲۲ ام کال کې موږ د ګڼو داسې ناروغانو درملنه وکړه چې وار دمخه یې د افغانستان او ګاونډي هېوادونو په روغتونونو کې یې درملنې ترسره کړې وې، خو په پای کې دوی په FMIC کې بریالي او هوسا شول. د دوی یو څو کیسې په لاندې ډول دي



## احمد امید

۱۶ کلن احمد امید، د مزار شریف اوسېدونکی د مایکزوما په نامه د زړه په کېڼ دهلیز کې یو غټ سرطان درلوده. په FMIC کې له ټوټه ټوټه کېدو پرته د زړه د پرانستې جراحۍ له لارې یې سرطان په بشپړ ډول اخوا کړای شو. امید په ای سی یو کې تر دوه ورځو تېرولو وروسته رخصت شو. د وروستۍ معاینې پرمهال، ډاکټر نور امین دا تایید کړه چې د امید د زړه کېڼ دهلیز دنده ۵۵٪ او د یوه ځوان لپاره ښه ده. امید، ښوونځي ته له ورستنېدو خوښ دی. د درملنې ټول لګښت یې ۴،۶۰۰ ډالر یا ۴۰۰،۰۰۰ افغانۍ شو، چې د La Chaîne de l'Espoir لخوا ورکړل شو.

## مرضیه

ځوانه مرضیه، چې د کوچنیوالې په دوه کلنۍ کې په تنور کې لوېدلې وه او ګڼې ژوبلېدنې یې درلودې. ددې پېښې په پایله کې، نوموړې تګ نشو کړای او خپل مدفوع یې هم نشوه کابو کولای. ډاکټر طارق رحیمي د کال په اوږدو کې پنځه ترمیمي جراحۍ ترسره کړې چې دې کار دقیق پلان جوړونې او دقت ته اړتیا درلوده. له دې ترمیمي جراحیو څخه منه، مرضیه اوس سمه ګرځي او روغتیا ساتنه یې هم برقراره ده. کورنۍ یې خوشحاله ده، چې مرضیه بیا ښوونځي ته ځي او له خپلو همزولو سره لوبې کوي. د مرضیې د درملنې ټول لګښت La Chaîne de l'Espoir ورکړ.





## حکیم الله

۸کلن حکیم الله، په پرله پسې ډول ټوخی، د ګېډې درد او سالنډې درلوده. د ایکسرې، سی ټی سکن، او لابراتواري معایناتو په شمول طبي څېړنو دا وښوده چې ملټپل هاډېټ کیسټ لري چې د پارازیټي ټاپ ورم انتان له کبله رامنځته کېږي او د ده ځیګر، سږو او زړه ته خپور شوی وه. د FMIC د زړه جراحانو هوډ وکړ چې د ټټر د پرانستې جراحۍ له لارې یې کیسټونه اخوا کړي. په درې ساعته جراحۍ کې، د ده په زړه او ښي سږي کې کیسټونه په بریالي توګه اخوا کړای شول. چې کله په سته روغ شو، نو په ځیګر کې پراته کیسټونه به یې د یوې بلې جراحۍ له لارې اخوا کړای شي. د حکیم الله پلار د FMIC څخه مننه وکړه چې ټوله کورنۍ یې د درملنې لپاره بهر ته د تګ مخه ونیوله. د حکیم الله د درملنې ټول لګښت La Chaîne de l'Espoir ورکړ.



## سبزینه


سبزینه د بدخشان اوسېدونکی، ۲۸ کلنه مور ده، چې د ګېډې غټوالي او پړسوب یې درلوده چې حرکت یې ورته ستونزمن کړی وه. په FMIC کې تر څېړنو وروسته یې په ګېډه کې ۱۸.۲ سانتي متر په ۳۸.۲ سانتي متره یوه لویه کتله وموندل شوه. جراحي یې وشوه او ۱۳ کیلو کتله ترې اخوا شوه. د هستوپتالوژۍ معاینې وښوده چې د لایپوسارکوما په نامه سرطان یې درلوده. سبزینه خپل عادي ژوند ته ورستنه شوه، خو د تعقیبونې پاملرنې ته به اړتیا لري چې دا کتله بیا وده ونکړي. د ناروغانو خیریه ځانګې د سبزینې د درملنې تر ۸۰ سلنې ډېر لګښت ورکړ.



# د ببوزليو چوپړتيا

La Chaîne de l’Es د عامې روغتيا وزارت او دهغې د رياستونو، د سره صليب نړيوالې کميټې، بې پولې ډاکترانو، د ناروی د کډوالو شورا او Terre des Hommes په شمول د همکارانو له يوې لوی شبکې سره کار کوي. دا نهادونه او موسسات د رامنځته شوې طبې معيار له مخې WCH ته بلقوه ګټه اخستوونکې راليږي. پردې سربېره، La Chaîne de l’Espoir د ۲۰۲۲ ام کال د مارچ په مياشت کې په FMIC کې يوه امتحاني پروژه پيل کړه چې له خوارځواکۍ سره مبارزه وکړي. د €۲۸۰,۰۰۰ دې پروژې، د تغذيې عامه رياست، عامې روغتيا وزارت، د افغانستان ثالثي روغتونونو، د هېواد د خوارځواکۍ د واحدونو، ملګرو ملتونو او ګڼو غير موسساتو په همکارۍ په ۲۰۲۲ ام کال کې د ۲۲۷ داخل بستر او ۸۱۴ خارج بستر ناروغانو په شمول، ۱،۰۴۱ ناروغانو ته پاملرنه برابره کړې ده.

FMIC دې ته ژمن دی چې کم درامده ناروغان هم د ياد روغتون له روغتيايي پاملرنې چوپړتياوو برخمنېدلای شي. د ناروغانو خيريه ځانګه دهغو کسانو مالي مرسته کوي چې د خپل درمل او درملنې د لګښت توان نه لري. په ۲۰۲۲ ام کال کې له ګرد افغانستان څخه ياد پروګرام د ۵۵،۵۱۴ ناروغانو لپاره چې ۸،۹۶۴ داخل بستر ناروغان هم پکې شامل دي، ۴.۳ مليونه ډالره لګښت ورکړی دی. د ۲۰۲۱ ام کال په پرتله، د داخل بستر او خارج بستر د دواړو ناروغانو لپاره دا د خيريه ځانګې په ترلاسه کوونکيو کسانو کې ۴۲ سلنه زياتوالی راښيي او د چمتو کړای شويو پيسو په مقدار کې ۷۲ سلنه زياتوالی ښيي.




## ۸،۹۶۴


**داخل بستر ناروغانو سره د FMIC د خيره ځانګې لخوا مرسته شوې ده**

- ۰ – ۱۰۰ ناروغانو درملنه شوې
- ۱۰۰ – ۳۰۰ ناروغانو درملنه شوې
- +٤,۰۰۰ ناروغانو درملنه شوې

La Chaîne de l’Espoir په FMIC کې د ښځو او ماشومانو د کور (WCH) سنبالنه کوي ترڅو دا ډاډمن کړي چې له ګرد افغانستان څخه تر ټولو بېوزله کوچنيان او ښځې هم په FMIC کې چمتو کېدونکې تخصصي پاملرنې ته لاسرسی ولري. له ولايتونو راغلي ناروغان او ددوی پايوزان په دې ۴۰ بستريز کور کې وړيا ډوډۍ، اوسېدانه او ټرانسپورټ او همداراز په FMIC کې ۱۰۰ سلنه وړيا درملنه هم ترلاسه کوي. ناروغانو ته د روغتيا ساتنې، تر جراحې مخکې او وروسته پاملرنې او نسايي ولادي روغتيا په اړه هم ښوونه ورکول کېږي. په ۲۰۲۲ ام کال کې WCH ، ۳،۶۳۲ ناروغانو (۲،۱۵۷ داخل بستر او ۱، ۴۵۷ خارج بستر) ته د ۲.۴ ميليونو € په ارزښت ملاتړ چمتو کړی دی. د چمتو کړای شوې پاملرنې مقدار او د ناروغانو شمېره دواړه ريکارډ جوړونکې شمېرې وې



# غيرې حضوري طبابت




**BPH:** باميان ولايتي روغتون
**FPH:** فيض آباد ولايتي روغتون

په ګرد افغانستان کې ، ډاکترانو او نرسانو د محدودې شمېرې، امنيتي ستونزو او کمزورې بېخبنا له کبله زياتره ناروغان د روغتيايي پاملرنې باکيفيته چوپړتياوو ته لاسرسی نه لري. له ۲۰۰۷ ام کال راهيسې FMIC ګڼو ولايتي روغتونونو ته انلاين سلامشورې او روزنې برابروي. د FMICد eHealth  پروګرام ، د باميان ولايتي روغتون، فيض آباد ولايتي روغتون، په کندهار کې ميرويس روغتون، د بدخشان ولايت د بهارک ولسوالۍ روغتون او په تاجيکستان کې د خورګ اوبلاست روغتون لپاره ټيلي کنسلټيشنې چمتو کړی. دا پروګرام په لرې پرتو سيمو کې مېشت له بېوزلو ناروغانو سره مرسته کوي، دا ځکه چې په دې کار سره به کابل او يا هم له افغانستانه بهر ته د تګ لپاره د دوی وخت او پيسې سپما شي او همداراز اوږده سفرونه به هم نه کوي. په ۲۰۲۲ کې، د باميان ولايتي روغتون او د فيض آباد ولايتي روغتون په ژونديۍ بڼه ټيلي کنسلټيشنې، ټيلي راډيولوژي کنسلټيشنې او ټيلي پاتولوژي کنسلټيشنې ترلاسه کړي دي.  يوه ټيلي کنسلټيشن په کندهار کې د بې پولې ډاکترانو يا ايم ايس ايف روغتون ته هم چمتو شوه.

FMIC همداراز په کراچۍ کې د اغا خان پوهنتون روغتون ، په پاريس کې له نيکېر روغتون، La Chaîne de l’Espoir او په فرانسه او اروپا کې له نورو نهادونو سره هم وصل دی. د دې روغتونونو ډاکتران د FMICډاکترانو ته ټيلي کنسلټيشنې چمتو کوي او هغه آم آر ای او سی ټی سکن او ماموګرافې هم لولي، چې د FMIC ډاکترانو ورلېږلي وي.

په ۲۰۲۲ ام کال کې د آغا خان پوهنتون روغتون په ژونديۍ بڼه ۸۵ ټيلي کنسلټيشنې او ټيلي راډيولوژي کنسلټيشنې چمتو کړي دي. نيکر روغتون په ژونديۍ بڼه ۹۸۰ ټيلي کنسلټيشنې او ټيلي راډيولوژي کنسلټيشنې چمتو کړي دي. پردې سربېره، په ۲۰۲۲ ام کال کې ياد پروګرام د برېښنايزو زده کړو يا eLearning ۳۶ ناستې ترسره کړي او د طبي شوونې ۸ ناستو ته يې دوام ورکړی چې د بدخشان، باميان او کندهار ولايتونو په جامع روغتيايي مرکزونو او ولايتي روغتونونو کې ترې ۱، ۴۷۳ ګډونوالو ګټنه کړې ده.

# وړتیا جوړونه

## دPGME پروګرام

FMIC د خپل اکمال تخصص د  پروګرام، د دوامداره طبي روزنې د پروګرام، د داخلي روزنې، طبي ماموریتونو، کلني کنفرانسونو او د زده کړې د انلاین پروګرامونو په شمول د بېلابېلو نوښتونو له لارې په دوامداره توګه د خپل کاري ځواک وړتیا لوړوي.
د اکمال تخصص پروګرام په ۲۰۱۲ ام کال کې د اغا خان پوهنتون او د افغانستان عامې روغتیا وزارت په همکارۍ رامنځته شو، چې په دې توګه په اوو څانګو کې متخصص ډاکتران وروزي: انستیزیولوژي، ،اورتوپیدي، د کوچنیانو داخله، د کوچنیانو جراحي، پتالوژي، راډیولوژي او نسایي ولادي. په دوه فوق تخصصي څانګو کې هم ډاکتران روزي: کارډیولوژي، او د زړه او رګونو جراحي. په افغانستان کې FMIC یوازیني روغتون دی چې په دې څلورو تخصصي څانګو کې د اکمال تخصص روزنه وړاندې کوي. تیوري، عملي او څېړنیزې روزنې هم چمتو کوي او ریسډنټان یا ټریني په کراچۍ کې د اغا خان پوهنتون روغتون او په کابل کې نورو روغتونو ته ځي. ریسډنټان یا ټریني به له درې څخه تر ۵ کلنې روزنې په موده کې د خپلې خوښې د موضوعاتو په اړه د تحقیق پروژه هم ترسره کوي.

په ۲۰۲۲ ام کال کې د دوه میرمنو په شمول اوو ډاکترانو په څلورو بېلابېلو تخصصي څانګو کې خپله روزنه بشپړه کړه: رادیولوژي، د کوچنیانو جراحي، پاتولوژي او د کوچنیانو داخله. د فراغت په مراسمو کې د FMIC د شریکبانو استازو، ملي او نړیوالې غیرې دولتي موسسو، رسنۍ او مدني ټولنو ګډون کړی وه. په افغانستان کې د حالاتو له کبله شپږ ر ریسډنټانو دا پروګرام پرېښود، ۵۱ ریسډنټان چې ۱۷ ښځې هم پکې شاملې دي په نهو څانګو کې اوسمهال روزل کېږي.

د FMIC د اکمال تخصص پروګرام ، خپلو ریسډنټانو یا ټریني او له روغتون څخه بهر لیواله ډاکترانو ته د شواهد پر بنسټ، د درملو په شمول، علمي سیمنارونه او ورکشاپونه چمتو کوي.

## دوامداره طبي ښوونه

په FMIC کې موږ کلک بارو لرو چې، روزنه د دوامداره او اغېزمن روغتیایي پاملرنې سیستم بنسټ دی. ژمن یو چې طبي مسلکي کسانو ته ګڼ فرصتونه چمتو کړ چې د دوامداره طبي روزنې د کورسونو له لارې دوی خپله پوهه او مهارتونه ډېر کړي.
په ۲۰۲۲ ام کال کې زموږ د بازار موندنې او خپروني څانګې، د دوامداره طبي ښوونې ۲۱ ناستې ترسره کړې، چې په دې کې د څېړنې یو سیمنار هم شامل وه. د روغتیایي پاملرنې ټول ټال ۶۷۹ ډاکترانو پکې ګډون وکړ. دې ناستو په ګڼو څانګو کې بېلابېل موضوعات راونغاړل لکه، جراحي، د کوچنیانو جراحي، کارډیولوژي، راډیولوژي، پاتولوژي او نسایي ولادي.
موږ ویاړو چې طبي مسلکي کسانو ته دا فرصتونه د یوې وزلې په توګه وړاندې کړو چې په دې توګه تر ټولو څخه د لوړ کیفیت د روغتیایي پاملرنې وړاندې کول ډاډمن شي. ددې ناستو له لارې، زموږ موخه په افغانستان کې د روغتیایي پاملرنې له دوامداره ودې سره مرسته ده او سترګې پر لاره یو چې په راتلونکي کې هم د روغتیایي پاملرنې ډاکترانو ته د دوامداره طبي ښوونو فرصتونه چمتو کړو.

## د وړتیاوو لوړول

په FMICکې موږ د خپلو کارمندانو ودې او پرمختګ ته ژمن یو او داسې فرصتونه ورته چمتو کوو چې دوی زده کړه وکړی او خپل مهارتونه پرې زیات کړي

په ۲۰۲۱ ام کال کې د روغتون د روزنې او ودې پروګرام  د نرسنګ، ښوونې، طبي چوپړتیاوو، کیفیت ، د ناروغ خوندیتوب، بشري منابعو او نورو موضوعاتو کې د داخلي روزنو ۱،۹۵۵ ناستې برابرې کړې وې.
په همدې موخه، په ۲۰۲۲ ام کال کې زموږ د روزنې او ودې څانګې په ګڼو څانګو د داخلي روزنې ۱،۶۱۱ ناستې ترسره کړې، چې په دې د نرسنګ ښوونه، طبي چوپړتیاوې، کیفیت او د ناروغ خوندیتوب او بشري سرچینې شاملې دي .





موږ همداراز ۱۱ کارمندان بېلابېلو نهادونو ته د روزنې لپاره لېږلي چې په دې کې نړیوالې غیر دولتي موسسات، د خوندیتوب موسسات، د هستوګنې لپاره د اغا خان بنیاد، عامې روغتیا وزارت، سرینا هوټل او غضنفر طبي علومو انسټیټوټ شامل دي. پردې سربېره، ۳۸ کارمندان پاکستان ته ولېږل شول چې د اغا خان په پوهنتون کې روزنه ترلاسه کړي.

پردې سربېره، موږ  د افغانستان د بېلابېلو سیمو د روغتیایي پاملرنې ۴،۳۸۲ چمتو کوونکیو ته د کار کولو پر مهال روزنې برابرې کړي دي. دې روزنه ترلاسه کوونکیو کسانو د طب، نرسنګ، لابراتوار او رادیولوژۍ  د  څانګو په شمول په بېلابېلو څانګو کې له لنډمهاله او اوږدمهاله لیوالتیاوو څخه هم برخمن شول، چېرته چې دوی نوي تکنیکونه زده کړل.

د روغتیا د بشري قواوو د ودې دا نوښت د Agence Française de Développement له خوا حمایه کېده.

کومو کسانو چې له دې پروګرامونو څخه ګټنه وکړه؛ نو دوی له له عامې روغتیا وزارت ، لوړو زده کړو وزارت، نورو دولتي نهادونو، د اغان خان انکشافي بنیاد او په افغانستان کې ورپورې تړلې نورو کسانو او نورو همکارانو څخه راغلي وه.

موږ ویاړو چې خپلو او همداراز نورو موسساتو ته د ودې فرصتونه وړاندې کوو او موږ په دې باور یو چې د دوی په وده او پرمختیا کې به زموږ له پانګونې څخه په پای کې زموږ ناروغان او هغه ټولنه برخمنه شي چې موږ یې چوپړ کوو.

# په افغانستان کې د باکیفیته روغتیايي پاملرنې پر لور

## علمي کنفرانس او کیفیت کنوانسیون

FMIC د ۱۲ ام کلنی نړیوال علمي کنفرانس او د کیفیت کنوانسیون کوربه توب وکړ چې د روغتیايي پاملرنې په برخه کې د شواهدو پر بنسټ د پوهې د رامنځته کولو او د علمي څېړنې کلتور ته ودې ورکولو لپاره د یوې لسیزې ژمنه پرې ونمانځي. د یاد روغتون د هاندوهڅو د یوې برخې په توګه په افغانستان کې د علمي څېړنې او په روغتیايي پاملرنه کې د شواهدو پر بنسټ د پوهې پالنه کوي. په دې مراسمو کې له افغانستان او نورو هېوادونو څخه طبي مسلکي کسان، څېړونکي او پوهان راټول شوي وه. « انساني روغتیا، کیفیت او څېړنه : ننګونې او فرصتونه» دا ددې کنفرانس عنوان وه چې پکې ۵۵ شفاهي او ۳۶ پوسټري پرزنټیشنې وي. د افغانستان، تاجیکستان او پاکستان له شپږو بېلابېلو ساحو څخه په مجازي توګه او تقریباً ۳۰۰ کسانو په فزیکي توګه د FMIC په اډیټوریم کې ګډون کړی وه

## طبي ماموریتونه


د سیاسي حالت له کبله د رامنځته شویو ننګونو باوجود، FMIC بیا هم د La Chaîne de l’Espoir او آغا خان پوهنتون لخوا برابر شوي له طبي ماموریتونو څخه برخمن شو. په ۲۰۲۲ ام کال کې په نسايي ولادي، بیهوشۍ، د زړه جراحۍ، اورتوپیدي او کارډیولوژۍ په څانګو کې ۱۴ متخصصینو له FMIC څخه لیدنه وکړه. دې طبي مسلکي متخصصینو نه یوازې ناروغانو ته پاملرنه چمتو کړه، بلکې د FMIC له کارمندانو سره یې خپله پوهه هم شریکه کړه چې د یادو کارمندانو له جاري مسلکي ودې سره یې هم مرسته وکړه.

## په ټولنه کې ګډونتیا پروګرام

په FMIC کې موږ د روغتون له شاوخوا ټولنو سره د پیاوړي اړیکو جوړونې ته لومړیتوب ورکوو. په ۲۰۲۲ کې د بندیزونو د ننګونو باوجود، بیا هم موږ وتوانېدو چې ګڼ نوښتونه ترسره کړو چې په دې توګه د چم ګونډ په ټولنو کې د روغتیايي پوهې دودوالي وکړو.

د ټولنې له استازو سره تر سلامشورې وروسته، موږ د خپلو وړیا روغتیايي پوهې د ناستو لپاره د علاقې وړ موضوعات هم وپېژندل. په دې کې دا موارد شامل دي : د بېلابېلو عمر درلودونکیو ښځو لپاره معیاري معاینات، د سټرس سنبالنه، په کوچنیانو کې نمونیا، اورتوپیدي اختلال او د ورون د مفصل ډیولوپمنټل ډیسپلازیا، خوارځواکي، د حاملګۍ پر مهال معاینات، د سترګو لید او د غاښونو روغتیا. په دې ناستو کې د ټولنې ۷۱۴ غړو ګډون درلود چې پکې د غاښونو د معایناتو دوه او د سترګو د لید د معایناتو یوه وړیا ناسته هم ترسره شوه.

موږ په ویاړ ووایو چې د کوڅې پاکولو په منډه تړړه یا کمپاین کې مو له ځايي ټولنې سره همکاري وکړه. تر ۱۵۰ څخه ډېر د ټولنې غړو د کوڅې په پاکولو کې برخه واخیسته ترڅو دا کوڅې د هر چا لپاره خوندي وي. دداسې نوښتونو له لارې، موږ هیله من یو چې له خپلو ګاونډیانو سره مثبتو اړیکو ته وده ورکولو ته دوام ورکړو او د روغتیا او هوساینې دودوالی وکړو.





# زموږ شریکباڼي

FMIC ددې ښکارندویي کوي چې مخ په وده هېوادونو کې د لوړ کیفیت روغتیایي چوپړتیاوو په راوړلو کې دولت او مدني نهادونه څرنګه یو له بل سره همکاري وکړي.

د FMICڅلور بنسټګر شریکباڼي – د فرانسې دولت، د افغانستان دولت، د اغاخان پوهنتون ( چې د آغا خان د پراختیایي بنسټ یو نهاد دی) او La Chaîne de l'Espoir د FMIC په ملاتړ او پراختیا کې فعال دي. برسېره پردې، دوه اړخیز تمویل کونکي د FMIC په پایښت کې مرسته کوي او د افغانستان خلکو ته د کیفیت لرونکي روغتیایي خدماتو چمتو کول ډاډمن کوي..

FMIC ، د ناروغانو د خیریه پروګرام لپاره له فرانسې دولت ( د Agence Française de Développement, AFD له لارې ) ، La Chaîne de l'Espoir د اغاخان پرمختیایي بنیاد، په فرانسه کې د کړکیچ او ملاتړ مرکز، او نورو انفرادي تمویلوونکیو څخه پیسې ترلاسه کوي. له AFD او د کاناډا له نړیوالو اړیکو (GAC) څخه د وړتیا لوړونې د پروګرامونو او د اکمال تخصص لپاره له AFD او GAC څخه د اکمال تخصص لپاره پیسې ترلاسه کوي.

تر دې دمه، FMIC له بنسټګرو شریکباڼو او نورو ډونرانو څخه ۱۲۱میلیون امریکایي ډالر ترلاسه کړي دي.




# زموږ راتلونکی لید

زموږ موخه د افغانستان د روغتیایي پاملرنې پر سیستم د خپلې اغېز زیاتوالی او د ناروغانو پراخې لړۍ ته د روغتیایي پاملرنې د چوپړتیاوو د شتون غځېدا ده.

په راتلونکیو کلونو کې FMIC له ۱۷۴ څخه تر ۵۵۰ بستریز تدریسي روغتون د رامنځته کولو هوډ لري چې د عمومي او تخصصي چوپړتیاوو پراخه لړۍ به وړاندې کړي، د روغتیایي پاملرنې نوي چمتو کوونکي کسان به وروزي او د پاموړ څېړنیز پروګرام ملاتړ به وکړي. دا پراخېدونکي طبي کمپلکس اوسمهال تر ډیزاین لاندې دی، چې څېړنیز مراکز به پکې شامل وي، په نویو څانګو کې به د اکمال تخصص روزنې چمتو کړي، د جراحۍ، کارډیولوژۍ، ګاسټروانټریالوژۍ، داخله، نیوروساینس، سرطان، اورتوپیدۍ او د پختورګیو پرمختللې تشخصیه چوپړتیاوې او طبي پاملرنه به هم پکې شامله وي.



# د شمېرو له مخې

| | ۲۰۱۹-۲۰۰۶ | ۲۰۲۰ | ۲۰۲۱ | ۲۰۲۲ | مجموع |
|---|---|---|---|---|---|
| بستر کېدنې | ۷۱,۵۳۰ | ۹,۴۷۵ | ۱۰,۳۱۲ | ۱۲,۷۳۵ | ۱۰۴,۰۵۲ |
| د کلینکونو ویزیټونه | ۱,۳۲۴,۸۹۷ | ۱۵۳,۸۶۱ | ۱۵۳,۰۵۴ | ۱۷۶,۱۰۶ | ۱,۸۰۷,۹۱۸ |
| لابراتواري معاینات | ۴,۱۳۱,۹۱۱ | ۴۴۹,۰۹۲ | ۴۵۳,۳۲۱ | ۵۲۸,۲۸۰ | ۵,۵۶۲,۶۰۴ |
| د رادیولوژۍ پروسیجرونه | ۷۳۹,۹۸۲ | ۷۹,۴۰۵ | ۷۶,۲۱۱ | ۹۰,۱۰۲ | ۹۸۵,۷۰۰ |
| (عمومي) جراحی | ۳۵,۰۹۹ | ۳,۴۸۲ | ۴,۰۴۷ | ۵,۴۲۶ | ۴۸,۰۵۴ |
| د کوچنیانو زېږېدنې | ۲,۹۵۸ | ۱,۲۹۶ | ۹۶۶ | ۷۷۶ | ۵,۹۹۶ |

د فرانسي طبي انستيتوت د مېندو او
ماشومانو لپاره
د کابل د طبي علومو د پوهنتون شاته
على آباد، کابل، افغانستان

www.fmic.org



THE AGA KHAN UNIVERSITY

La chaîne de l’espoir

MINISTÈRE
DE L'EUROPE
ET DES AFFAIRES
ÉTRANGÈRES
*Liberté*
*Égalité*
*Fraternité*